مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد معصوم هوتک
۲۰۲۰/۱۰/۰۷

# فوشنج د پوشنګ، پُشنګ معرّب شکل دئ

## او فوشنجي (fošanjay) د پښنيګی - پیشنګی معرّبه بڼه ده

اصل مطلب ته تر داخلېدو د مخه لازمه ګڼم، ولیکم چي ډېر خوښ سوم چي ښاغلي جهاني صاحب پر خپل هغه تصمیم باندي دوهم وار کتنه وکړه چي "نور به د سید نورمحمد شاه په باب یو سطر لا هم ونه لیکي". د دوی له دې وروستی لیکني څخه ماته داسي حوالي په لاس راغلي چي د سید نورمحمد شاه کندهاري په باب به ئی د خپل اثر د لیکلو پر وخت ښه زیاته استفاده څني وکاندم. د دوی لیکني هر وخت ماته په زړه پوري وي.
زموږ د هیواد د تاریخ پر ښلابښلو برخو باندي د سالم نقد لیکل اړین څه چي، فرض عین دئ. د دوی قلم دي همېشه تاند او خوځنده اوسي.

د هرات ښار ته څرمه د پوشنګ، پُشنګ نامه ته منسوب یو ښار ودان وو چي معرّب شکل ئی په تاریخو کي " فوشنج" ثبت سوی دئ. وایي چي پوشنګ، پُشنګ د توران د پاچا افراسیاب پلار وو. فردوسي ویلي دي:

نخواهیم شاه از نژاد پشنگ
فسیله نـه نیکو بـود با پلنگ

(فسیله د اسانو، اوښانو، خرو ګلي ته وایي)

پوشنګ د" بوشنج، فوشنګ،بوشنجه، بوشنګ په املاوو هم لیکل سوی دئ. په لغتنامهٔ دهخدا کي ئی د معجم البلدان په حواله د هرات په لس فرسنګی کي بللی دئ او د تاریخ بیهقي په حواله ئي دا خبره هم پر زیاته کړې ده چي پوشنګ ( پیشنګ) " قریه است میان قندهار و ملتان".
دغه ځای چي بیهقي ئي د قندهار او ملتان تر منځ راښیي، پښین دئ چي د " پیشین، پیشینګ" په شکل هم کتابونو راوړی دئ. په پیشنګ باندي د پښین د نامه اړولو ژبني دلایل ما په نورو لیکنو کي کښلي دي. د پښین اوسېدونکو ته په محلي محاوره کي" پښنيګی" وایي. پښنيګی مذکره کلمه ده او فونومیکي بڼه ئي (pşingay) ده. د پښنيګی مفرّس شکل پیشنګی او معرّبه بڼه ئي "فشنجي" کېږي. په عربي کي د ابتدا بالساکن محال توب د فشنجی کلمي (ف) ته زېر (کسره) ورکړې ده. په عربي او فارسي د حرکتونو یا د علت د تورو ابدال او سره اړول عام قانون دئ. موږ د فارسي او پښتوپه زیاتروکلمو کي د (یاء) او ( واو) پر ابدال باندي پېښېږو.

دیر ــ دور. از دیر زمان = از زمانه های دور
بیرون په هزارګی لهجه کي "بور" سوی دئ. یعني د بیرون کلمي (یاء) په ( واو) اوښتي ده.
میر، میرا ــ چي مؤنث شکل ئي "مورا" ده او د (یاء) او (واو) اوښتنه پکښي وینو.
د پښتو په ځینو لهجو کي خور = خېر، مور= مېر تلفظ کېږي.

د همدې ژبني قانون له مخي له فِشنجی څخه " فوشنجي" جوړ سوی دئ. خو پام مو وي چي د هرات فوشنج ته منسوب " فوشنجي" او د پښنيګی معرّب شکل" فوشنجي" د جنس او تلفظ په لحاظ ډېر توپیر لري. فارسي او پښتو الفباء چي د آوازونو د ترسیمولو په برخه کي نیمګړې ده، دا دواړه کلمي په یوه راز املاء لیکي. خو فونومیکي شکل ئي موږ ته توپیر ښه ترا واضح کولای سي : په دې ډول:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ

د هرات فوشنج ته منسوب فوشنجی = ( fošanji)

د پښنيڼگی، پيشنگی معرب فوشنجی = ( fošanjay)

په لومړي فوشنجی کي د پای (ياء) د نسبت (ی) ده او په منسوب اليه کلمه کي شامله نه ده.
خو په دوهم فوشنجی کي دپای (ی) د کلمي جزء ده او له نسبتي (ياء) سره ئي مغالطه کول په ژبپوهنه کي د نابلدی نخښه ده.
د پښنيڼگی په کلمه کي د پای (گی)دري ډوله معناوي توليدوي:

ــ د تحبيب (گرانښت) معنا. بل مثال ئي " زړگی" دئ
ــ د تصغير (کوچنيتوب) معنا . نور مثالونه ئي " کمکی، زنکی، جونگی".
ــ د تحقير (سپکاوی)معنا. نور مثالونه ئي " طالب گی، موزي گی، بلوگی" ( د ادم خان و درخانی په نکل کي د بلو نومي يار په اړوند)

پښنيڼگی کلمه چي په هره معنا راغلي وي، اوس زموږ د بحث موضوع نه ده، خو دونده قدر به ووايم چي د کندهار مشهور قومي او مخور شخص حاجي پښنيڼگي ته خلکو مخامخ په دغه نامه خطاب نه کاوه. د حاجي صاحب مرحوم د ديوال په ديوال گاونډي ښاغلي نسيم سليمي له خولي روايت دئ چي حاجي صاحب په دغه خطاب سره خوابدی کېدی. د خوابدی عامل ئي دا وو چي د پښنيڼگی په کلمه کي د تحقير معنا هم اخښلي سوي ده.
د سيد نورمحمد شاه کندهاري له نامه سره د پښنيڼگی کلمه يو ځای سوي ده او ددې له پاره چي د خطاب پر وخت د تحقير غلط فهمي پيښه نه سي، نو ئي د پښنيڼگی پر ځای " فشنجی، فوشنجی" کښلی دئ او د کلماتو دې التباس بيا د هرات له فوشنج سره د سيد نورمحمد شاه افسانه زېږولي ده.
زموږ ځيني محققين د احتمالاتو په وچ زور غواړي سيد نورمحمد شاه د هرات له فوشنج سره وتړي او هغه په دې دليل چي غبار مرحوم او کوم بل مورخ به دومره ناخبره نه وو چي پښين او فوشنج دي ئي سره بېلولای نسوای. دا ډول احتمالات د هغو قوي اسنادو ( پاچهي فرمانو، په شرعي محکمو کي تسجيل سوو قبالو، په رسمي دفترو کي ثبت سوو شجرو، او مسلسل خانداني روايتو) په مقابل کي ډېر کمزوري دي او استناد ئي د منلو نه دئ.
که د هرات له فوشنج سره د سيد نور محمد شاه کندهاري د تړلو له پاره د استدلال تاداو پر دې خبره باندي ودروو چي مرحومين غبار يا کهزاد يا بل څوک به د سيمي په جغرافيه دومره ناخبره کسان نه ول چي فوشنج او پښين دي سره بېل نه کړای سي، نو زه هم ويلای سم چي:

۱ــ امير شير عليخان هم د سيمي له دود و دستور او قبيلوي اړيکو څخه دومره ناخبره څوک نه وو چي د پښين د سيدانو د مشرتوب له پاره دې د هرات له فوشنج څخه يو تن راوغواړي او دمشر په توگه دې ئي ور وټاکي او په فرمان کي دې ورته وليکي چي دا مشرتوب ستاسي په فوشنجي کورنی کي له ډېري پخوا زماني څخه پاته وو. او د پښين سيدان دي بيا تر نن ورځي پوري دده د کورنی مشرتوب ومني. ( ددغه فرمان اقتباسات ما په تېرو ليکنو کي رااخيستي دي ).
د پښين په سيدانو کي بخاري ځانگه چي په شنغري کي اوسي او د سيدانو د مشرتابه بگړی ئي تر ننه لا پر سر پرته ده، د خپل دود او دستور او خانداني سپېڅلتيا په چاره کي دومره ټينگ دي چي د لورالايي گزيتر د ليکني له مخي خپلي نجوني د نورو ځانگو ځوانانو ته نه په نکاح کوي. نوله بلي سيمي راغلی خاندان به څرنگه په پېړيو پېړيو د ځان مشران کاندي؟ عقل او درايت دا خبره نسي منلای.

۲ ــ سردار محمد امين خان به هم دومره ناپوه او د خپل صلاحيت له حدودو څخه ناخبره سړی نه وو چي د هرات په فوشنج کي دي چاته د مځکو ماليه ور معاف کاندي.

۳ــ د قلات رياست قاضي جلال الدين او د هغه زوی قاضي محمد عيسی به هم دومره ناخبره کسان نه ول چي د " بند و بست" په نامه د شجروي ريکارډونو د ثبت په پانو کي دي د پښين د ساداتو په کورنی کي د هرات د فوشنج د يوه سيد نوم شاملوي او د اسلافو و اخلافو نومونه دي ئي ليکي او د پښين سيدان بيا د همدې ريکارډونو له مخي تر نن ورځي پوري د جايدادونو د حدودو او د مځکو د حقابو او د شجرو پر وخت همدغو ريکارډونو ته اعتبار ورکوي.

۴ــ د سييد نورمحمد شاه کندهاري د اکا (تره) لمسی مشهور خطاط سيد عطاء محمد شاه قندهاري به هسي له تړي يو راغلی شخص نه وو چي ځان دي ئي په کندهار پوري تړلی وي. دی د قندهاري په نامه تولو مولفينو منلی وو. کورنی ئي تر اوسه هم په کندهار او کابل کي سته.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له مور سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په ځير و لولئ

۵ــ علامه حبيبي به له هغه صلاحيت سره سره چي د سيمي د تاريخي جغرافيي په باب ئي درلود او په دې برخه کي د مستقلو تاليفاتو ښښتن وو او د مرحوم استاد سعيد نفيسي په قول د سيمي د جغرافيايي نومونو په تثبيت کي ئي د اتاريتي حيثيت درلود، دومره ناخبره نه وو چي د هرات فوشنج او پښين دي سره ګډ کاندي او د سيد نورمحمد شاه له نامه سره دي له ځانه د" قندهاری" لقب وکاږي.

۶ــ علامه رشاد مرحوم چي د افغانستان او سيمي د تاريخي جغرافيي (Toponomy)په اړه ئي څه دپاسه نهه سوه مخيز اثر ليکلی او زما (هوتک) په زيار خپور سوی دئ، دومره ناخبره نه وو چي د هرات د فوشنج د يوه سيد معرفي په برخه کي دي وليکي :" سيد نورمحمد شاه د امير شير عليخان د زماني يو ستر شخصيت او سياسي سړی بلل کيږي. دی اصلاً د کندهار د پښين دئ." (وګ : د کندهار يادابښتونه ــ ۲/ ۱۸۴مخ، چاپ ۲۰۰۷ع)

۷ــ سيد قاسم رشتيا په " افغانستان در قرن نزده فصل بيست و هفتم صــ ۲۵۱ چاپ پنجم ، انتشارات ميوند" کي د سيد نورمحمد شاه له نامه سره فوشنجی کښلی دئ. که ئي له فوشنجی څخه مراد د هرات فوشنج وای، نو دی دومره غير دقيق سړی نه وو چي په ۲۶۳ مخ کي دي بيا دده له نامه سره " قندهاری" وتړي او ودي ليکي :" ... و امير شيرعليخان و وزير او سيد نورمحمد شاه قندهاری در همان وقت بر اين حکميت نامنصفانه هيئت انگليس صدای احتجاج بلند کرده..."

۸ــ ارواښاد محمد ابراهيم عطايي چي د بلوچستان د بلوڅو او نورو اتنيکي ډلو په باب د آثارو ښښتن دئ، دومره ناخبره نه وو چي پخپل وروستي اثر" د افغانستان پر معاصر تاريخ يوه لنډه کتنه ـ صــ ۱۰۰، دريم چاپ، کابل" کي دي د سيد نورمحمد شاه له نامه سره بې له کوم سنده " کندهاری" وليکي.

۹ ــ زه (هوتک) هم دومره بې انصافه کيږم نه، چي د سيد نورمحمد شاه کندهاري کورنی او خپلوان دي په پښين او کندهار کي راته معلوم نه وي او هسي دي له ځانه د احتمالاتو پر بنسټ جعليات وليکم.
زه له دې خبري سره بالکل موافق يم چي سيد نورمحمد شاه کندهاری د "سمارق" په شان په ناځاپه ډول را پيدا سوی شخص نه وو. په کندهار او پښين کي د ده اووه اته پښته شاته او اووه پښته وروسته نسلونه معلوم او مشهور کسان دي. که چا ته د ده له اخلافو او اسلافو څخه د هرات په فوشنج کي ځيني کسان د ثقه اسنادو له مخي معلوم وي، راوړاندي دي ئې کړي. هسي په احتمالاتو باندي د محققينو ، يا لږ تر لږه زما قناعت حاصلېدلای نه سي.

آشاوا ــ کاناډا
اوومه د اکتوبر ۲۰۲۰ع


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ